# په کليوالي سيمو کې د اوبو رسولو او حفظالصحې پروګرام

# میاشتنی

**فبروري ۲۰۲۱**




**په دې ګڼه کې ..**

په تالقانو کې د (٤٢٠) کورنيو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې
پاڼه ۱

په خوست کې د ۲۸۳ کورنيو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې
پاڼه ۲

په غور ولايت کې د اوبو رسولو درې پروژې بشپړې شوې
پاڼه ۳

په ننګرهار کې د ۵۹۷ کورنيو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې
پاڼه ٤




## په تالقانو کې د (٤٢٠) کورنيو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې



د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت په کليوالي سيمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري د تخار ولايت د مرکز اړوند تالقانو په «آقبلاق سرای‌سنګ» کلي کې د (٤٢٠) کورنيو لپاره د څښاک پاکې اوبه چمتو شوې. د اوبو رسولو په دغه پروژه باندې، چې په تطبيق سره يې خلکو ته په پايپونو کې د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې، مجموعاً (٥ ميليونه او ٥ سوه زره) افغانۍ لګښت راغلی چې د افغانستان د حکومت لخوا ورکړل شوې. د اوبو رسولو په ياده شوې پروژه کې د يوې ژورې څاه کيندل، د سولرونو لپاره د يوې احاطې او يوې ذخيرې جوړول، د ٤٠ لمريزو تختو (سولرونو)، څه باندې ٤،٧٠٠ مترې اوږدې د پايپونو د شبکې، ۲۳٥ نل‌بندانونو او ځينې نورو اړينو پُرزو نصبول شامل وو. د يادې شوې پروژې د جوړولو چارو دغه راز د ځايي خلکو لپاره څه د پاسه ۳،۰۰۰ کاري ورځې هم رامنځته کړې.





## په زابل کې د اوبو رسولو دوې لمریزې شبکې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

د زابل ولایت د مرکز قلات ښار اړوند دکبرو کلي او د شهر صفا ولسوالۍ په آیوب کلي کې د اوبو رسولو دوې لمریزې شبکې جوړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د اوبو رسولو ددغو دوو شبکو په جوړېدو سره د شاوخوا ۱۰۰ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې او د پروژو د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره شاوخوا ۲٤۰ کاري ورځې ایجاد کړې. په دغو پروژو باندې مجموعاً (٤ میلیونه او ۱٤۱زره) افغانۍ لګښت راغلی چې د مالیې وزارت او یواس‌اِیډ/یونیسف لخوا ورکړل شو.





## په خوست کې د ۲۸۳ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ‌الصحې پروګرام د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ په کمکۍ مېنه او لیژه فضل‌خان کلیو کې د څښاک د اوبو دوې شبکې جوړې او د خلکو ګټنې ته وسپارلې. د یادو شویو پروژو په تکمیلېدو سره، د شاوخوا ۲۸۳ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې. همدارنګه د پروژو د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره په یادو شویو سیمو کې ټولټال ٦،۸۱۰ کاري ورځې هم رامنځته کړې. په دغو پروژو باندې مجموعاً (٥ میلیونه او ٦٤۷ زره) افغانۍ لګښت راغلی چې د دولت له بودجې څخه ورکړل شوې.



# په غور ولایت کې د اوبو رسولو درې پروژې بشپړې شوې

د روان ۲۰۲۱ کال په فِبروري میاشت کې، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروګرام له لوري په غور ولایت کې د اوبو رسولو درې پروژې بشپړې او د ځایي خلکو ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د یادو شویو پروژو په تکمیلېدو سره د شاوخوا ۳۲۶ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې. په دغو پروژو کې د فیروزکوه ولسوالۍ په غالک رضایي کلي او د لعل‌وسرجنګل ولسوالۍ په ده پیتاب سیدعلم او نو آسمان کلیو کې د اوبو رسولو دریو لمریزو شبکو جوړول شامل و.

د دغو پروژو نور جزییات په لاندې انفوګرافیک کې ښودل شوي دي.

کاري ورځې:
۴،۴۰۰ ورځې

د شبکو شمېر:
۳ شبکې




ټولټال لګښت:
۴،۴۸۸،۰۰۰ افغانۍ

د ګټه اخیستونکیو شمېر:
۳۲۶ کورنۍ







## په ننگرهار کې د ۵۹۷ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې



د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروگرام له لوري د ننگرهار ولایت په دره نور ولسوالۍ کې د څښلو د اوبو یوه لمریزه شبکه او د غني‌خېلو ولسوالۍ په بېلا بېلو کلیو کې په لاسي بمبو سمبال ۱۵ څاه‌گانې جوړې او د ځایي خلگو گټې اخیستنې ته وسپارل شوې. د اوبو رسولو ددغو پروژو په تکمیلېدو سره د شاوخوا ۵۹۷ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې او د پروژو د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره څه د پاسه ۳،۱۰۰ کاري ورځې هم رامنځته کړې. په دغو پروژو باندې مجموعاً (٤ میلیونه او ٤١٢زره) افغانۍ لگښت راغی چې د مالیې وزارت او یواس‌اید/یونیسف اداري لخوا ورکړل شوې.

## په تاله وبرفک ولسوالۍ کې د ۳۳۰ کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې



د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت په کلیوالي سیمو کې د اوبو رسولو او حفظ الصحې د پروگرام له لوري د بغلان ولایت د تاله وبرفک ولسوالۍ په «دشت نماز» کلي کې د اوبو رسولو یوه شبکه جوړه او د ځایي خلکو گټې اخیستنې ته وسپارل شو. د اوبو رسولو په دغه پروژه باندې (٤ میلیون او ١٢٥زره) افغانۍ لگښت وشو چې بودجه یې د افغانستان د حکومت لخوا ورکړل شوه. د اوبو رسولو ددغې پروژې د تطبیق په پایله کې د «دشت نماز» کلي د اوسیدونکیو لپاره له هغې چینې څخه، چې له یاد شوي کلي څخه اووه کلیومتره واټن لري، د څښاک پاکې اوبه د (۸،٦) کلیومتره اوږدې شبکې پرمټ چمتو شوې. ددغې پروژې د جوړولو چارو د ځایي خلکو لپاره سلگونه کاري ورځې رامنځته کړې او په بشپړېدو سره یې د څه باندې (۳۳۰) کورنیو لپاره د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې.



